UNAMA
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN
د بشري حقونو خدمتونه

## په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه درې میاشتنی راپور
## د جنوري له لومړۍ څخه د مارچ تر ۳۱ نېټې پورې

د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ ربع (لومړیو دریو میاشتو) کې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) له وسله والې جګړې په پایله کې ملکي وګړو ته د لوړې کچې زیان په دوام داره ډول مستند کړی. د ۲۰۱۹ د جنوري له لومړۍ څخه د مارچ تر ۳۱ نېټې پورې، یوناما د ماشومانو ۵۸۲ تلفاتو (۱۵۰ مړه او ۴۳۲ ټپیان) په ګډون، ۱۷۷۳ ملکي تلفات (۵۸۱ مړه او ۱۱۹۲ ټپیان) مستند کړي. دغه شمیرې د تیر کال د ورته مودې په پرتله په عمومي ملکي تلفاتو کې ۲۳ سلنه کموالی او له ۲۰۱۳ راهیسې په لومړۍ ربع کې تر ټولو کم شمیر ملکي تلفات ښیي.[1]

په ټولیز ډول ملکي تلفاتو کې دغه کموالی د ځانمرګو چاودیدونکو توکو بریدونو په پایله کې ملکي تلفاتو کې د کموالي له امله رامنځ ته شوی. یوناما یادونه کوي چې د کال په لومړیو دریو میاشتو کې د سخت ژمي له امله ښایي د ملکي تلفاتو له عمومي کموالي د تمایل سره مرسته کړې وي.دا لا روښانه نده چې ایا ملکي تلفاتو کې کمښت جګړې کې دښکېلو ډلو له خوا نیول شوي تدابیر دي چې ملکي وګړي په ښه توګه خوندي وساتي یا جګړه کې د ښکېلو خواو تر منځ روان مذاکراتو له امله دی.[2]

یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي وګړو د دوامداره هدف ګرځوني او د غیر انتحاري ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د کاروني له امله په ملکي تلفاتو کې د زیاتوالي، او همدارنګه له هوایي او ځانیزو عملیاتو له امله په ملکي تلفاتو کې د پام وړ زیاتوالي په اړه، کوم چې د دولت پلوه ځواکونو له خوا په ملکي تلفاتو کې د عمومي زیاتوالي لامل شوی، ډیره اندیښمنه ده. دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي مړیني له هغو زیاتي دي کومي چې دولت ضد عناصرو ته د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ ربع کې منسوب شوي.




---

[1] د ۲۰۱۸ کال په لومړۍ ربع کې یو ناما ۲۳۰۵ ملکي تلفات ( ۷۹۹ وژل شوي او ۱۵۰۶ ټپیان) مستند کړي چې په دې ۶۰۹ د ماشومانو تلفات ( ۱۷۶ وژل شوي او ۴۳۳ ټپیان دي )

[2] یوناما مشاهده کوي چې د ۲۰۱۸ کال د جنورۍ په ۲۲ مه نېټه کابل کې ځانمرګی برید، چې په مستند شویو پیښو کې تر ټولو زیات مرګونی برید و، چې د هغه مهال ربع کې د ځانمرګي چاودیدونکو اړوند تلفات یې زیات کړل او شاید همدا لامل وي چې د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ ربع کې د ملکي تلفاتو زیات کمښت کیږي.

ځمکنی نښتې د ملکي تلفاتو مخکښ لامل و، چې د ټولو تلفاتو نږدې يو پر درې برخې لامل شوی. د ۲۰۱۹ کال د مارچ پر ۷ نېټه په کابل کې د داعش/د اسلامي دولت خراسان ولايت ډلې له خوا د هاوان يوه بريد له ځمکنيو نښتو څخه د ملکي تلفاتو نږدې يو پر پنځمه برخه تلفات واړول (لاندې برخه وګورئ). د ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو کارونه د ملکي تلفاتو دويم مخکښ لامل و. د ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ کلونو د جريانونو په خلاف، د ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو زياتره ملکي تلفات د ځانمرګو په پرتله د غير انتحاري چاوديدونکو توکو له امله رامنځ ته شوي. هوايي عمليات د ولسي مړينو[3] مخکښ لامل او د ملکي تلفاتو دريم مخکښ لامل و، چې په تعقيب يې هدفي وژني او له جګړې څخه پاتې شوني چاوديدونکي توکي مخکښ لاملونه ګڼل کيږي. هغه ولسي وګړي چې په کابل، هلمند، ننګرهار، فارياب او کندز ولايتونو کې اوسيږي، په ترتيب سره تر ټولو زيات اغيزمن شوي.




په ملکي تلفاتو کې عمومي کموالی تر ډيره د ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو د ځانمرګو بريدونو له امله په ملکي تلفاتو کې د پام وړ -۷۶ سلنه- کموالي په پايله کې رامنځ ته شوی. د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې د ۱۹ پېښو په پرتله چې ۷۵۱ ملکي تلفات يې اړولي وو، د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ ربع کې، يوناما د څلور ځانمرګو ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو بريدونه مستند کړي چې د ۱۷۸ ملکي تلفاتو لامل شوي. دغه څلور واړه بريدونه طالبانو ته منسوب شوي. د ځمکنيو نښتو له امله هم ملکي تلفات ۱۳ سلنه راکم شوي. له دې سره سره، يوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي وګړو د دوامداره هدف ګرځوني او د غير انتحاري ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو له امله په ملکي تلفاتو کې د زياتوالي (۲۱

[3] د هوايي بريدونو د ملکي تلفاتو شميرې د ټپيانو په پرتله د وژل شويو لوړ شمير منعکسوي، په ځانګړي ډول کله چې له نورو تاکتيکونو سره پرتله شي. يوناما همدارنګه له چاپيزو عملياتو څخه په نسبي ډول د وژلو لوړه کچه مستندې کړې.

سلنه زياتوالی)، او دغه راز د دولت پلوه ځواکونو له خوا د هوايي عملياتو (۴۱ سلنه زياتوالي) او ځانيزو عملياتو (۸۵ سلنه زياتوالي) له امله په ملکي تلفاتو کې د پام وړ زياتوالي په اړه انديښمنه ده.

**هغه پيښې چې پوهنه او روغتيا اغيزمن کوي**

د ۲۰۱۹ کال د جنوري د لومړۍ او د مارچ د ۳۱ ترمنځ، يوناما ۱۸ داسې پيښې ثبتې کړې چې پوهنه يې اغيزمنه کړې،[4] چې ۱۲ يې دولت ضد عناصرو ته، څلور يې دولت پلوه ځواکونو ته او دوه يې په ګډه دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي. له دغو پيښو په څلورو کې د طالبانو له خوا هغه بريدونه شامل وو، چې په فراه ولايت کې يې د نجونو ښوونځي په نښه کړي، زياتره د دوي تر ولکې لاندې سيمو کې، او د ښوونځيو ودانيو او وسايلو ته يې اور ورته کړی. که څه هم د دغو پيښو له امله کوم تلفات نه دي مستند شوي، خو بريدونو د زده کوونکو او د هغو د کورنيو ترمنځ ويره خپره کړې او د ښوونځيو د تړل کيدو لامل شوي، چې نږدې د ۳۰۰۰ نجونو زده کړې يې اغيزمنې کړې.

يوناما دغه راز ۲۶ پيښې ثبت کړې چې روغتيا پالنه[5] يې متاثره کړې، چې ۱۷ يې طالبانو، اوه يې دولت پلوه ځواکونو، او دوه يې نامعلومو دولت ضد عناصرو او يې د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه وسلوالو ته په ګډه ته منسوب شوي. طالبانو ته په منسوب شويو پيښو کې شپږ يې د هيواد په ختيځه سيمه کې رامنځ ته شوي،[6] چيرې چې ۸۸ طبي مرکزونه تړل شوي او درې طبي پرسونل تښتول شوی. زياتره د قومي مشرانو د منځګړيتوب په پايله کې تښتول شوي افراد په هغه ورځ يا يوه ورځ وروسته خوشې او زياتره کلينيکونه څو ورځې يا اونۍ وروسته بيرته پرانيستل شوي.

**دولت ضد عناصر**

د ۲۰۱۹ کال د لومړيو دريو مياشتو پر مهال، دولت ضد عناصر د اکثرو ملکي تلفاتو مسؤل پاته شوي، د ټولټال ۹۶۳ ملکي تلفاتو (۲۲۷ مړه او ۷۳۶ ټپيان) لامل شوي، چې دا د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله ۳۶ سلنه کموالی ښيي. يوناما طالبانو ته ۳۹ سلنه، داعش/ د اسلامي دولت خراسان څانګې ته ۱۲ سلنه او نا پيژاندو دولت ضد عناصرو ته درې سلنه ملکي تلفات منسوب کړي.

يوناما د دولت ضد عناصرو د بريدونو په اړه کوم چې د ملکي حکومتي اداري په شمول په عمدي توګه ملکيان په نښه کوي، په جدي توګه انديښمنه ده. د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ ربع کې، يوناما د ملکي کسانو د عمدي هدف ګرځولو په پايله کې ۵۲۹ ملکی تلفات مستند کړي. د بيلګې په توګه، د مارچ په ۷ په کابل کې، داعش/ د اسلامي دولت د خراسان څانګې د خلکو په ګڼه ګوڼې چې د يوه مشهور هزاره نژادي د تلين مراسم لمانځل د هاوانو ۱۲ مرمۍ فير کړې چې په پايله کې يې ۱۱ تنه ملکي کسان ووژل شول او نور ۱۰۴ تنه ټپيان شول. داعش/ د اسلامي دولت خراسان څانګې د پيښې مسوليت ومانه.[7] د مارچ په ۲۳ په يوه بله پيښه کې د هلمند ولايت په لشکرګاه کې، د نوروز د لمانځلو په مراسمو کې د ملکي حکومتي چارواکو په وړاندې د طالبانو له خوا د تعبيه شويو چاوديدونکو توکو يو بريد ترسره شو چې په نتيجه کې يې دوه ملکيان ووژل شول او نور ۴۵ تنه ټپيان شول. [8] طالبانو د پيښې مسوليت ومانه. [9]

په داسې حال کې چې د ۲۰۱۹ کال په اوله ربع کې د تعبيه شويو چاوديدونکو توکو د بريدونو په پايله کې د ملکي تلفاتو په برخه کې د پام وړ کموالی راغلی، يوناما د غير ځانمرګي تعبيه شويو چاوديدونکو توکو په نتيجه کې د ملکي تلفاتو په برخه کې ۲۱ سلنه زياتوالی مستند کړی چې په پايله کې يې ۳۲۲ ملکي تلفات (۵۳ مړه او ۲۶۹ ټپيان) را منځ ته شوي.[10] يوناما

---

[4] په دغو کې د ښوونځيو په ضد بريدونه او تصادفي زيان، او د پوهنې اړوند پرسونلو وژنه او تښتونه شامل دي.

[5] په دغو کې د روغتيايي مرکزونو په ضد بريدونه او تصادفي زيان، د روغتيايي مرکزونو لوټل، او د روغتيايي پرسونلو وژنه، وهل ډبول او تښتونه؛ او د روغتيايي مرکزونو او کارمندانو په ضد ګواښونه شامل دي.

[6] پنځه پيښې په ننګرهار ولايت او يوه په لغمان ولايت کې رامنځ ته شوې.

[7] د داعش/ اسلامي دولت خراسان څانګې له خوا د مسوليت ادعا د يوناما د ملکي کسانو د ساتنې د ډيټابيس په دوسيه کې موجوده ده.

[8] وګورئ: https://unama.unmissions.org/unama-condemns-attack-targeting-civilian-festival-lashkar-gah.

[9] طالبانو د مسوليت ادعا په تويټر پوسټ کړه چې په دې پته د وروستي ځل ۲۲ اپريل ۲۰۱۹ کال د لاسرسي وړ ده: https://twitter.com/Zabihullah_4/status/1109376566000345089

[10] د ۲۰۱۸ کال په لومړۍ ربع کې يوناما ۲۶۶ ملکي تلفات ( ۷۶ وژل شوي او ۱۹۰ ټپيان) د غير انتحاري ځای په ځای شوي چاديدونکو توکو له امله ثبت کړي.

په ملکي سیمو کې د ځانمرګو او نورو تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د بې توپیره کارولو په اړه او همداراز د دې ډول وسیلو په مرسته د ملکي کسانو د عمدي په نښه کولو په هکله خپلې اندیښنې څرګندوي. د ۲۰۱۹ کال د جنوري په ۱۴، په کابل کې، د ګرین ویلیج په انګړ کې چیرې چې یو شمیر نړیوالي کمپنۍ میشتي دي یو ځانمرګی موټر بم وچاودید، چې په نتیجه کې یې ۶ تنه ملکیان ووژل شول او د ۵۱ ماشومانو او ۱۸ ښځو په ګډون ۱۴۰ تنه ټپیان شول، دا د ۲۰۱۹ کال په اوله ربع کې د یوادځنۍ پیښې په نتیجه کې تر ټولو لوړ ملکي تلفات وو. په سیمه کې ګڼ شمیر د استوګنې کورونو او سوداګرۍ ته زیانونه واوښتل. طالبانو د برید مسولیت ومانه.[11]

یوناما دولت ضد عناصرو ته ور په یادوي چې د دولتي چاروواکو په شمول د ملکي کسانو عمدي په نښه کول د نړیوال بشر دوستانه قانون لاندې منع دي او جنګي جرم تشکیلوي. یوناما د دولت ضد عناصرو څخه غوښتنه کوي څو ملکیان د نړیوال قانون سره سمون کې تعریف کړي او همداراز د ملکي تلفاتو د مخنیوي لپاره چټک تدبیرونه ونیسي.

**دولت پلوه ځواکونه**

د ۲۰۱۹ کال د جنوري د لومړۍ او د مارچ د ۳۱ نیټې تر منځ، یوناما ټولټال ۶۰۸ ملکي تلفات (۳۰۵ مړه او ۳۰۳ ټپیان) دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړې چې دا د تیر کال د ورته مودې په پرتله ۳۹ سلنه زیاتوالی ښیي.[12] یوناما په خواشینۍ سره یادونه کوي چې د ۲۰۱۹ کال د اولې ربعې په ترخ کې د دولت ضد عناصرو په پرتله دولت پلوه ځواکونه د زیاتو ملکي تلفاتو لامل شوې. یوناما افغان ملي امنیتي ځواکونو ته ۱۷ سلنه، نړیوالو پوځې ځواکونو ته ۱۳، دولت پلوه وسله والو ډلو ته دوه سلنه او ګڼ شمیر دولت پلوه وسله والو خواکونو ته دوه سلنه ت ل فات منسوب کړي.

په ۲۰۱۸ کال کې مشاهده شوې دوامداره رجحانات، له هغه راهیسي چې کله یوناما د هر کال په لومړۍ ربع کې د ملکي کسانو په سیستیماتیک مستند کولو پیل وکړ، د دغو تاکتیکونو په پایله کې د زیاتو ملکي تلفاتو د ارقامو په درلودلو سره، یوناما د هوایي بریدونو او تلاشي د عملیاتو په پایله کې ملکیانو ته مخ پر زیاتیدونکی زیان مستند کړی. دولت پلوه ځواکونو د ۲۰۱۹ کال په اوله ربع کې ۴۳ هوایي عملیات ترسره کړي چې په نتیجه کې یې ۲۲۸ ملکي تلفات (۱۴۵ مړه او ۸۳ ټپیان) اوښتي. نړیوال پوځې ځواکونه د ۳۹ هوایي عملیاتو مسول و د کومو په نتیجه کې چې ۲۱۹ ملکي تلفات (۱۴۰ مړه او ۷۹ ټپیان) اوښتي. د ټولو هوایي بریدونو د تلفاتو نیمایي برخه ښځې او ماشومان جوړوي. د مارچ د ۲۳ نیټې په یوه پیښه کې په کندز کې، نړیوالو پوځې ځواکونو د ځمکنې افغان ځواکونو په ملاتړ یو هوایي برید ترسره کړ چې په نتیجه کې یې د ۱۰ ماشومانو او دوو ښځو په ګډون ۱۳ ملکي کسان ووژل او د یوه ماشوم او یوې ښځې په شمول یې درې نور ټپیان کړل.[13]

د ټولټال ۳۲ چاپیزو عملیاتو په ترڅ کې دولت پلوه ځواکونو ۱۰۲ ملکي تلفات (۷۲ مړه او ۳۰ ټپیان) اړولي چې دا د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله د ملکي تلفاتو په برخه کې ۸۵ سلنه زیاتوالی ښیي.[14] د تلاشي ډیری عملیات - ۸۰ سلنه — او را منځ ته شوې ملکي تلفات یا خو د ملي امنیت د ریاست ځانګړو ځواکونو یا د خوست ژغورنې ځواک ته، د کومو ملاتړ چې د نړیوالو ځواکونو له خوا څخه کیږي، منسوب دي. یوناما په خپلو اندیښنو تاکید کوي چې ښکاري دغه ځواکونه د حکومت د قوماندې د کرښو څخه د باندې په معافیت سره فعالیت کوي. یوناما د دغو عملیاتو د لا زیات شفافیت او احتساب پر دوام ټینګار کوي او همداراز د افغانستان د حکومت څخه غوښتنه کوي چې یا خو د خوست ژغورنې ځواک منحل کړي او یا یې د جدي ارزونې د طرزالعمل په تعقیب د وسله والو ځواکونو په لیکو کې په رسمي توګه ځای پر ځای کړي.

[11] طالبانو د پیښې مسولیت په تویتر نشر کړ چې په لاندې پته وروستی ځل ۱۹ اپریل لاسرسي ور وه: https://twitter.com/Zabihullah_4/status/1085009149782605824

[12] د ۲۰۱۸ کال په اولو دریو میاشتو کې، یوناما د دولت پلوه ځواکونو د تلاشي د عملیاتو په پایله کې ټولټال ۵۵ ملکي تلفات (۴۴ مړه او ۱۱ ټپیان) مستند کړي.

[13] وګورئ: https://unama.unmissions.org/kunduz-airstrike-kills-13-civilians-mostly-children-%E2%80%93-un-initial-findings.

[14] د ۲۰۱۸ کال په اولو دریو میاشتو کې، یوناما د دولت پلوه ځواکونو د ۱۱ تلاشي عملیاتو په ترخ کې ټولټال ۵۵ ملکي تلفات (۴۴ مړه او ۱۱ ټپیان) مستند کړي.

د دولت پلوه ځواکونو له خوا د يو شمير پيښو وروسته، د کومو په نتيجه کې چې ملکيانو ته تلفات واوښتل، يوناما افغان ملي او دفاعي ځواکونو ته د ولسمشر غني د مارچ د ۱۳ نيتي د هغه لارښود هرکلى کوي چې موخه يې په پوځي عملياتو کې د کارول شويو ميکانيزمونو او طرزالعملونو په اړه کتنه وه څو د ملکي تلفاتو څخه مخنيوى وکړي.[15] يوناما په دې هکله پرمختګ ته منتظر ده . يوناما د افغان ملي امنيتي ځواکونو څخه غوښتنه کوي څو د ملکي تلفاتو د ادعاوو په اړه څېړنې ترسره کړي، د خپلو موندنو پايلې علنيځپرې کړي او قربانيانو ته مناسبې خسارې ورکړي.




د لازیاتو و معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په هکله د يوناما کلني او نيم کلن راپورونه ته چې په لاندې پته د لاسرسي وړ دي، مراجعه وکړئ: http://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

[15] وګورئ:
https://unama.unmissions.org/unama-takes-note-government%E2%80%99s-decision-address-civilian-casualties-caused-pro-government-forces.